# پېښور ټيليويژن ډرامو کښې روماني قيصې (۱۹۷۵ء نه تر ۱۹۸۰ء پورې)

# Romantic Stories Telecasted form Peshawar Television Centre, Peshawar (1975 – 1980)

Taj Pari [1]

Drama is a particular aspect of literature has a very wide field in this sense. Pashto literature reflects the same .Drama is one of the prominent & eminent part of Pashto literature. No doubt most of the Pashtuns know about Pashto Drama but the author is in this paper wants to draw the attention of the readers towards the development of Pashto romantic drama from 1975 to 1980. In this paper i want to highlight the true essence of Pashto romantic drama.I will try to expound the untouched part of the Pashto literature and the development of Pashto romantic drama from 1975-1980 I will also explain that how folktales mingled out in shape of Pashto drama, how those drama's got popular and how they drew the attention of the people.

## د ډرامې ابتداء او پښتو ته د دې راتګ

د درياب لغت مطابق د ډرامې تعريف څۀ په دې ډول دے ـ

”ډرامه: (ډرامه) اسم ، واحد مونث ، ناټک ، تماشه ، نقل (م ، انګريزي) ١ـ“

د ظفر اللغات مطابق ډرامه دا معنیٰ[١] لري ـ

”ډرامه: (ډ،رامه) مو ، انكـ ، نقل ، سوانګ ، تمثيل(ج) ډرامې په چا پورې ډرامې کول ، د چا نقل کول،کسی کی بی عزتی کی خاطر اس شخص کو گفتگو اورحرکات وسکنات کی نقل اتارنا ہے٢ـ“

اردو علمي لغت مطابق د ډرامې تعريف څۀ داسې دے ـ

1 Ph.D Research Scholar Pashto Academy, University of Peshawar

”ڈرامہ:(انگ ۔ اند) dramma کسی کہانی کو اسٹیج پر حرکات جسم اور مکالمے کی صورت میں ادا کرنا سوانگ، نقل، ناٹک، تمثیل ۳ے“

د پښتو ډرامه د شلمې پيړۍ په دريمه عشره کښې وځلېده ، ډرامه د يونان د خاورې پيداوار ده ۔ يوناني ډرامه ډېره مقبوله وه ۔ په دې وجه ډرامه د يوناني ادب نه انګريزي ادب خپله کړه او هم دغه شان ډرامه د برصغير خاورې ته هم راغله او ډرامه اول اردو ادب خپله کړه او اردو نه بيا پښتو ته راغله د معلوم او مستند ريسرچ مطابق وړومبۍ ډرامه چې عبدالاکبرخان اکبر ليکلې ده چې په ۱۹۲۷ء کښې د اتمانزو هائي سکول کښې ستيج شوې وه خو زلمي هيواد مل په خپل کتاب د پښتو نثر اته سوه کاله کښې د سعادت خان جليل په حواله ليکي چې هغه وائي چې لومړۍ ډرامه د ارواښاد حمزه بابا”زمينداره“ ده چې په کال ۱۹۲۶ء کښې ليکلې ده او د معنی نه وروستو بيا عبدالاکبر خان اکبر ليکلې ده دلته هم دغسې د مختلفو ليکوالانو رائې رانقل کوم چې د حقيقت نه پرده پورته شي ۔

پروفېسر افضل رضا د خپلو خيالاتو څرګندونه څۀ داسې کوي ۔

”د ادب ددې ښکلي صنف دا نوم د يونانۍ ژبې ټکے ډراو نه وتے دے ډراو په يوناني ژبه کښې عمل ته وائي ډرامه او عمل د يو بل سره تړلي څيزونه دي ۔ کېدے شي چې دغه وجه ډرامې ته ډرامه وئيلې شوې وي ځکه چې د ډرامې بله معنی ده په کولو ښئيل چې د وړومبي معنی سره سمون خوري۴ے“

د ډرامې د ماهرينو او دانشورانو تعريفونه هم افضل رضا صيب رانقل کړي دي چې مونږ تري دلته فائده پورته کولے شو رومن ليکوال سېسرو وائي ۔ د ژوندنقل د دود دستور آئينه او د رښتنوالي يعني د حقيقت عکاسي ته ډرامه وئيلي شي ۔

هيوګو د ډرامې تعريف څۀ داسې کوي:

ډرامه يوه آئينه ده چې فطرت پکښې منعکس کېږي ۔

کالرج وائي:

ډرامه د حقيقت نقل وي او د فطرت پيښې دي ۔

سارس وائي:

مونږ د ډرامائي فن تعريف داسې کوو چې دا د يو څو عناصرو مجموعه ده چې د هغوي په مدد مونږ ژوند په تهيټر کښې پېش کوو او د تماشګيرو دولس سوو ګنړي ته د حقيقت يو تت غوندي تصوير وړاندې کوو.

ارسطو وائي:

ټريجيډي الميه د يو داسې عمل کردار نقل او پيښې دي چې هغه اهم او مکمل دي او يو مناسب عظمت لوړتيا لري او په داسې ښکلې ژبه کښې ليکلې شوي وي چې خوند کوي اوس دوي په مختلفو حصو کښې په مختلفو ذريعو چې کوم د درمندي ويري او دهشت په ذريعه اثر اوکړي او بيا د هغې د وجې نه د پيدا شوو جذباتو او هيجاناتو صحت او اصلاح هم اوکړي ـ ۵ـ

زمونږ پښتانه ليکوال د ډرامې باره کښې څۀ داسې خيالات لري حمزه بابا چې د ډرامې په لړ کښې ډېره ژوره فلسفه لري هغه وائي ـ

”مونږ د يو تهذيب و تمدن او د ذهني ارتقاء اندازه د هغه ملک د ډرامو نه کولې شو. ۶ـ“

سمندر خان سمندر د ډرامې تعريف څۀ داسې کوي ـ

”د انسان ژوند يوه ډرامه ده دا ډرامه د بابا آدم او حوا ابۍ نه را شروع شوې ده خدائي خبر دي چې کله پورې به پکښې بابونه پړ دي او نندارې بدلېږي او کله به ختمېږي خو دا خبره يقيني ده چې دا ډرامه يوه ورځ ختمېدونکې ده انسان چې څنګه څنګه د خپل ځان پحقله سوچ او فکر کوي ـ ورسره ورسره دا ډرامه هم مخ په وړاندې روانه ده ۷ـ “

عبدالخالق خليق صېب د ډرامې په لړ کښې خپله تبصره وړاندې کوي

”د يو مقصد د اظهار دپاره ډرامه ډېره موثره طريقه ده ۸ـ“

فضل مير خټک د ډرامې تعريف داسې کوي ـ

”لفظ ډرامه د ډراو نه وتے دے مطلب ئې دے په کولو د عمل سره ښکاره کول په سنکسرت کښې ناټک او په فارسي کښې تمثيل د دے مترادف الفاظ دي اردو کښې ډرامه تمثيل او کهيل درے واړه په يوه معنی استعمالېږي پښتو کښې لفظ ډرامه دومره عام دے چې نن پري د غرابت لفظي شک نه کېږي د ادب په اصطلاح کښې هغې قصې ته ډرامه وئيلے شي چې څو کسان (کردارونه) ئې د عمل په ذريعه په سټيج پېش کوي ۹ـ“

مشتاق مجروح يوسفزے د ډرامې تعريف څۀ داسې کوي هغه وائي چې :

”ډرامه د لوستو څيز نه دے بلکې د عمل سره تعلق لري ـ ترکومې چې ډرامه د الفاظو په ګرفت کښې وي ـ نو هغه يو بې ساه څيز وي ـ خو چې کله دغه بې ساه څيز د کردارونو په ذريعه پېش کړے شي نو لکه چې روح په کښې واچولے شي ـ غرض دا چې د ژوند يو اړخ په کولو سره ښئلو ته ډرامه وئيلے شي ۱۰ـ “

پروفېسر ډاکټر عارف نسيم صيب ليکي :

”ډرامه د قصه ايز ادب اهمه برخه ده ـ يو اهم صنف دے ډرامه د يوناني ژبې ټکے دے چې د Draw يا Dram نه راوتے دا د عمل نمائش ، ښودلو، تصادم معنیٰ ورکوي ـ ډرامه د ژوند سره ډېر نزدې، کلک او ژور تړون لري دا د ژوند عکاسي کوي او د ژوند د همه اړخونو نمائندګي کوي ـ۱۱ـ“

سيد عابد علي عابد ليکي:

”د ډرامې مقصد دا دے چې نظر له دهوکه ورکړي او د دريو څلور ګهنټو دپاره تماشبين داسې محسوس کړي چې د ژوند يوه ټوټه د هغه د سترګو وړاندې په ګډا ده ـ۱۲ـ“

انسائکلوپیډیا (اردو ، انګریزي او عربي) مطابق :

" ډرامه د مختلفو قومونو تر مېنځه د حالاتو واقعاتو یوه سلسله چې یو نزاعي یا خونده ور کشمکش یا تصادم (Conflict) په ګوته کوي دا د قیصې یو ترقي یافته په پورته ختلي شکل او هیت دے د نظم یا نثر هغه فنپاره ده چې د انساني ژوند د یو اړخ عکاسي وکړي او د ژوند یوه ټوټه یو اړخ په سټیج د حرکاتو ، مکالمو تقریرونو په شکل کښې را وړاندې کړي د ډرامې ابتداء د انساني ژوند د نقل نه شوې ده ـ۱۳ـ"

د دې وړاندې بیان شوو حوالو په رڼا کښې د ډرامې یو واضح تعریف او تصور زمونږ مخې ته راغلو او دا تصور د ډرامې په مجموعي تعریف دلالت کوي، خو ورسره دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې زمونږ د پښتو ډرامې یو ځانګړے مزاج ، او یو ځانګړے ثقافت لري، د پښتو ډرامې کړه وړه د نورو ډرامو نه ډېر مختلف دي په دې کښې د پښتون ټول خاصیتو نه ځلېږي ـ

## د پښتو ډرامه د ۱۹۷۵ء نه ۱۹۸۰ء پورې او د هغې موضوعات

د پښتو ټي وي سنټر د قیام سره سم د ډرامې عروج شروع شو او ډېرې ښې او معیاري ډرامې ولیکلے شوې خو چونکې دا داسې دور وو چې پښتون اولس خپل کلچر او ثقافت ډېر خوښوو او فولکلوري قیصې ئې هم ډېرې خوښولې او هر چرته به د مینې داستانونه چېړلے کیدل او خلقو به دغه روماني قیصې په حجرو ، بیټکونو او کورونو کښې یو بل ته کولې هم د دغې ضرورت تر مخه پښتو ډرامې هم دا ضرورت محسوس کړو چې دغه روماني قیصې دې عوامو ته د ټي وي په پرده وړاندې کړي او عوام پرې خپل دغه د روماني قیصو اوریدو تنده سړه کړي ـ

د پښتو ډېرې روماني قیصې چې د پښتو ادب په پرمختګ کښې ئې ډېر لاس کړے او په ډېرو اصنافو کښې دغه قیصې بیان شوې، لکه اول د داستان په طور لیکلے شوې بیا د ناول ډرامې او افساني په وجود کښې ځاې شوې دي، د پښتو مشهورو روماني داستانونه داسې هم شته چې په منظوم کتابي صورت کښې هم موجود دي او په دغه روماني قیصو دومره کار شوے دے چې د پښتو ادب یوه جوته برخه لري، او تر پي،ایچ،ډي پورې سندونه پرې طالبعلمانو تر لاسه کړي دي ـ

د پښتو روماني قيصې چې کومې د ډرامې په دؤد عوامو ته پېش شوي دي په دې ورومبے روماني داستان موسي خان ګل مکي چې په ۷۵/۱۰/۱۸ کښې د پېښور ټي وي سنټر نه وړاندې کړے شوه، او ددې روماني ډرامو دپاره ئې د پروګرام "قيصه د ګل په رنګ" نوم ټاکلے وو چې مختلفي روماني ډرامې به تري وړاندې کيدي، د موسي خان ګل مکي ډرامه ليکوال محب الله شوق او ولي محمد خليل ليکلې وه، چې سکرپټ ئې ډېر خوندور او مزيدار وو، او لکه د قيصې ايز خوندئې پېدا کوو، دا ډرامه په عوامو کښې ډېره خوښه کړے شوه ـ په دې وجه ليکوالان او د ټي وي پروډيوسرانو دا خوښه کړه چې هم دغه شان دي نوري ډرامې چې فولکلوري قيصې دي ډرامائي شکل ته راواړولے شي او د عوامو د امنګ او خواهشاتو تر مخه دي دا ډرامې په ټي وي پېش کړے شي، ځکه چې دې ډرامې دومره پزيرائي په عوامو کښې او موندله چې د قيصه ايز ادب مخه هم ټوله دي طرف ته شوه او ډېر ښې او معياري قيصې ډرامائي شکل کښې پېش کړے شوي ـ

شير عالم ماموني يو داسې روماني داستان وو چې د دغې وخت د ټولو نه مقبوله او هر دلعزيز قيصه ګرزيدلې وه په دې وجه ستر ليکوال عمر ناصر دغه قيصه د ټي وي دپاره ډرامائي شکل ته راواړاله او د "قيصه د ګل په رنګ" پروګرام لاندي د پي ټي وي نه په کال ۷۵/۱۱/۱۰ کښې پېش کړے شوه، دا ډرامې به په دوباره هم وړاندې کيدي ، دا ډرامه په دريم ځل ۷۵/۱۱/۱۵باندي وړاندې کړے شوه چې عوامو ډېر زياته خوښه کړه ـ

"تور دل شهي" د پښتو روماني قيصې ده چې سعد الله جان برق د ټي وي دپاره ليکلې وه ـ دا ډرامه په کال ۷۵/۱۰/۲۸ کښې په اول ځل او په دويم ځل ۷۵/۱۱/۱ کښي د پېښور ټي وي سنټر باقاعده ليکوال وو هغه دا ډرامه په ډېر مهارت او فني پختګۍ سره ليکلې وه د دوي دا ډرامه عوامو دومره خوښه کړه چې دوي مزيد نوري ډېرې روماني قيصې ډرامائي شکل کښې ليکلو ته اوګرميدو، او د هغې په ليک ئې لاس پورې کړو، په دې دوران کښې د "فتح خان رابيا" قيصه هم د دغې پروګرام"قيصه د ګل په رنګ" نه وړاندې شوه چې ليکوال ئې خالقداد اميد وو، خالقداد اميد هم د پښتو ټي وي ډرامو باقاعده ليکوال او فنکار هم وو، د دوي دا ډرامه په کال ۷۵/۱۱/۲۳ کښې او ۷۵/۱۱/۲۹ کښې د پېښور ټي وي سنټر نه پېش کړے شوه ـ

سعد الله جان برق چې څنګه وړاندې ذکر اوشو چې د پښتو روماني قیصو ډرامائي لیک ته ورغاړي وتے وو دوي مسلسل دري ډېرې مقبولي او اهمو قیصې باندي ډرامې ولیکلي اولنے ډرامه"یوسف خان شیربانو" چې په کال ۷۵/۱۲/۹ او ۷۵/۱۲/۱۳ کښې د "قیصه د ګل په رنګ" پروګرام لاندي وړاندې کړے شوه چې عوامو ډېره زیاته خوښه کړه، دویمه اهم قیصه "جلات محبوبه" دوي ولیکله چې په کال ۷۶/۱/۲ او ۷۶/۱/۱۷ کښې هم د دغې پروګرام لاندي پېش کړے شوه ـ

دریمه اهمه ډرامه"تور دل شهي" چې کومه دوي ددې نه وړاندې هم یو ځل د قیصه د ګل په رنګ پروګرام له لیکلې وه ـ دا ډرامه په عوامو کښې دومره خوښه کړے شوه چې د یو بل پروګرام لاندي دا ډرامه د لږ ډېر بدلون سره دوباره وړاندې کړے شوه د دې پروګرام نوم "د پت غېږ" وو چې دوه حصه ئې وي په وړومبې حصه کښې ئې هم دا ډرامه چې سعد الله جان برق لیکلې وه "تور دل او شهي" وړاندې کړے شوه ددې ډرامې د پېش کیدو کال ۷۷/۹/۲۵ او ۷۷/۹/۲۷ وو.

د "پت غېږ" پروګرام کښې په دویم برخه کښې ساحر آفریدي دوباره د "شیر عالم مامونۍ" ډرامه ولیکله کوم چې د تې وي دپاره په اول ځل عمر ناصر هم لیکلې وه، ساحر آفریدي دا ډرامه د پېښور تې وي سنټر دپاره د عوامو په غوښتنه لیکلې وه ځکه چې دوي ته به دا محسوسیده چې عوام هم دغه قیصه بار بار او لږ ډېر بدلون سره ګټل غواړي، دا ډرامه په کال ۷۷/۱۰/۳ او ۷۷/۱۰/۴ کښې د پېښور تې وي سنټر نه وړاندې کړے شوه، چې په اولس کښې ورته ډېره پزیرائي ملاو شوه ـ

یه مجموعي ډول د پټ غېږ د وخت د تقاضو مطابق داسې پروګرام وو چې د دې قیصې د اولس د معاشرتي ژوند سره ډېر سمون خوړو په دې وجه په داسې وخت کښې هم داسې ډرامې ولیکلے شي، چې اولس تري څۀ نه څۀ سبق واخلي او په خپل امروزه ژوند کښې د داسې غلطو سدباب وکړي ـ

د دې ډرامو په وجه په اولس کښې د پښتنو اصلي رنګ لکه ننګ او غېرت په ښخښه کول وو ، دویم غټ مقصد د دې ډرامو دا وو چې د ښځو څۀ مقام دے او زمونږ معاشره کښې د هغوې سره څومره زیاتے کېږي چې د اولس مخ دي پله راوګرځوي او تربور څنګه تربور ولي پالي ـ

## د روماني قيصو ډرامائي تفصيل د پېښور T.V سنټر د مسودو مطابق

۱۴ـ

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۷۵-۱۰-۱۵۳ | محب الله شوق | موسي خان ګل مکي | ۷۵-۱۰-۱۸ | قصه د ګل په رنګ | |
| ۳۴ | ۷۵-۱۰-۱۵۴ | ولي محمد خليل | | | | |
| ۳۷ | ۷۵-۱۱-۱۶۶ | عمر ناصر | شير عالم ماموني | ۷۵-۱۱-۱۰<br>۷۵-۱۱-۱۵ | قصه د ګل په رنګ | |
| ۳۹ | ۷۵-۱۱-۱۶۷ | سعد الله جان برق | تور دل شهي | ۷۵-۱۰-۲۸<br>۷۵-۱۱-۱ | | |
| ۴۲ | ۷۵-۱۱-۱۷۶ | خالقداد اميد | فتح خان رابيا | ۷۵-۱۱-۲۳<br>۷۵-۱۱-۲۹ | قصه د ګل په رنګ | |
| ۴۴ | ۷۵-۱۱-۱۷۸ | سعد الله جان برق | يوسف خان شير بانو | ۷۵-۱۲-۹<br>۷۵-۱۲-۱۳ | قصه د ګل په رنګ | |
| ۴۸ | ۷۵-۱۲-۱۳۴ | سعد الله جان برق | جلات محبوبه | ۷۶-۱-۲<br>۷۶-۱-۱۷ | قيصه د ګل په رنګ | |
| ۱۴۰ | ۷۷-۹-۴۳۶ | سعد الله جان برق | تور دل شهي | ۷۷-۹-۲۵<br>۷۷-۹-۲۷ | ۹۱,۲ | د پت غيږ ۱ |
| ۱۴۲ | ۷۷-۱۰-۴۳۸ | ساحر آفريدي | شير عالم ماموني | ۷۷-۱۰-۳<br>۷۷-۱۰-۴ | ۷۷-۹-۲۷<br>۹۱,۱ | د پت غيږ ۲ |

## د پي ټي وي پېښور سنټر خپرونه

د پي ټي وي پېښور سنټر نه په ډېر کوښښ او د ګران مشر او ستر سکرپټ سیکشن مشر ښاغلي ناصر شاه صېب په مرسته او اجازت ما د دې روماني قیصو ډرامائي سکرپټ ترلاسه کړو، چې ډېر د کړون او زیار کار وو، دلته هم د دغه روماني ډرامو د سکرپټ څۀ حصه د نمونې په توګه وړاندې کوم

## موسی خان ګل مکۍ

موسي خان ګل مکي هغۀ وړومبے روماني قیصه وه چې د پاکستان ټیلیویژن پېښور سنټر نه په کال ۱۹۷۵ کښې پېش کړے شوه د موسي خان ګل مکي ډرامائي تنه بوده ستر سکرپټ رائټر محب الله شوق صېب کښېښودې وه خو دلته د بده مرغه د ۱۹۷۵ء دغه د پښتو ډرامې نسخه ماته میلاو نه شوه ځکه چې هغه د وخت په تیرو کښې دفن شوې وه د موسي خان ګل مکي اردو ډرامائي تشکیل اعجاز احمد کړے دے او دغه سکرپټ ماته میلاو شوے دے، دلته د روماني قیصو په مد کښې ددې ډرامې سرسري جائزه اخلو ددې ډرامې پروډیوسر جهانزیب سهیل وو او د "پګړي" په نوم دا قیصه په اردو کښې د ریشم په سیریز کښې پېش شوې وه، د دې ډرامې کردارونه دا دي ـ

کردارونه:

"(۱) غرِ بابا ایک پُر وقار سفید پوش جو غار میں مقیم ہے اور کچھ لوگ اسکے مرید ہیں کو وہ کہانی سناتا ہے۔

(۲) وحید غرِ بابا کا جوان مرید

(۳) امجد ـــــــــــــــــــــــــ

(۴) اعجاز شہر کا نوجوان طالبعلم

(۵) نظم اعجاز کا دوست طالبعلم

(۶) موسیٰ خان (تور ترین کے ملک عیسیٰ خان کا بیٹا)

(۷) سہیل (گل مکئ کے چچا کا بیٹا)

(۸) شیر خان سہیل خان کا ساتھی نوجوان)

(۹) ملک شامست (گل مکئ کا باپ (ایک سین) مکالمے میں

(۱۰) احمد خان (سفد ریش بوڑھا) (ایک سین) اچھے مکالمے

(۱۱) گل مکئ (ملک شامست کی بیٹی)

(۱۲) بخته گل مکئ کی سہیلی

(۱۳) بن بن جھان (رکبانونس اور ناش) گل مکئ کی ماں (ایک سین میں ۱۵ے

دا قیصه د غر بابا یو سپین پوشه بزرګ په حوله ناست کردارونو ته وړاندې کړے شوې ده، غربابا دا قیصه د ښار دوه ملګري اعجاز او اعظم ته کوي، چې موسٰی خان او د ګل مکۍ تر مېنځه څۀ داستان رقم شوے وو.

## شیر عالم ماموني

شیرعالم ماموني ډرامه عمر ناصر لیکلې ده او په ۷۵/۱۱/۱۰ کښې د پي تي وي نه نشر شوې ده دا اولسي قیصه ارباب خان پېش کړې وه دا ډرامه د "قیصه د ګل په رنګ" سریز کښې پېش شوې وه دا ډرامه ساحر آفریدي هم لیکلې وه چې کومه په ۷۷/۱۰/۳ کښې نشر شوې وه دلته د عمر ناصر د سکرپټ نه ددې ډرامې کردارونه وړاندې کوم ـ

کار کوونکي:

(۱) شیر عالم (۲) ماموني (۳) کریم خان (۴) رحمن (۵) سرے (۶) میلمه ۱۶ے

د دې سکرپټ هغۀ روماني حصه دلته وړاندې کوم چې ښاغلي عمر ناصر څومره په فنکاري د شیر عالم او ماموني کردارونه راڅرګند کړي دي او د ماموني د زړۀ حالات ئې څنګه شیر عالم ته بیان کړي دي ـ

"دویم سیټ (د ماموني کور)

میموني: د ماماڅويه

شيرعالم: وــلے میموني

میموني: ته چې ځي نو زړهٔ مې درپسي ډېر خفه کيږي ژړا راځي

شير عالم: ستا مينه زما د ژوند رڼا ده میموني

میموني: کله به واپس راځي، ډېري ورځي خو به نه تيروي

شير عالم: د ورځ دوو خبره ده

میموني: دا ورځ دوه به په ما د کال تيريږي

شير عالم: ماته پته ده میموني خو تلل ضروري دي

میموني: د مخي دِ رڼا شه

بدله

په نه زړهٔ شو شير عالم ترينه روان
هم زړڪے د میموني وو په لړزان

راغله کيناسته په کټ کښې بې قراره
په رودنو کښې د شوچ وه را ايساره
تلو راتلو به ورته ستړکو ته هر دم
هم تصوير هم تصور د شير عالم

په ستنه لاړله ورځ او آخر شپه شوه
میموني دروازه بند کړه غمزده شوه

بهر جوړ وو په حجره کښې تنګ تکور
یکه زار ټپې ځلمو کړي ښځۀ په زور ۱۷ـ

دا یوه داسې اولسي ډرامه وه چې په ډېره فنکاره انداز کښې عمر ناصر پکښې د کردارونو سره انصاف کړے دے، او ځائي په ځائے د "بدلو"ډېري ښې ټوټې ئې پکښې لګولي دي، چې د ډرامې په فن ئې دلالت کوي ـ

**تور دل شهۍ**

تور دل شهۍ زمونږ د اولسي ادب حصه ده دا ډرامه سعد الله جان برق لیکلې ده او پېشکش ئې ارباب خان کړے دے او په کال ۷۵/۱۰/۲۸ء کښې د پي ټي وي نه نشر شوې ده، دا ډرامه هم د قصه د ګل په رنګ سیریز کښې پېش شوې وه ددې ډرامې کردارونه دا دي ـ

"(۱)تور دل(۲)شهي (۳)منور(۴)مستجاب خان (۵)شهنشاه اکبر
(۶)سپاهي۱۸ـ"

د ډرامې په سکرپټ کښې په یو ځائے کښې ښاغلے لیکوال د ډرامې اصل حقیقت ښکاره کوي او وائي

"تور دل: شهي دا ته ئې؟

شهي: هوزه یم ـ خو

توردل: خو څۀ؟

شهي: ډېر خوشحاله ئې خیر خو دے؟

توردل: خوشحاله به نه یم ولې تاته پته نشته څۀ؟

شهي: نه ولې؟

توردل: چې زما د زړۀ ټولو نه لوئي ارمان بس نن صبا کښې په رڅیدو دے

شهي: څۀ ارمان؟

توردل: ته زما ارمان ئې

شهي: اوهو، ما وي چې دا په څۀ دومره خوشحال ئې ، ما وي که د اکبر باچا د ښځي اووه لړي امیل دِ راوړے دے چرته؟

توردل: اووه لړه امیل؟ که راوړے مې نه دے نو را به ئې وړم ته زما انتظار کوه،

شهي: اوه ، دا مې څۀ اوکړه ، تور دله ، اود رېږه مه څه خدائے ته اوکوره

توردل: اوس به هله راځم چې دغه هار راوړم ۱۹ـ ‘‘

**یوسف خان شیربانو**

دا اولسي قیصه هم سعد الله جان برق لیکلي ده، او ”قیصه د ګل په رنګ“ سیریز کښې د پي ټي وي نه نشر شوې ده، دا ډرامه هم ارباب خان پیش کړي وه په پي ټي وي باندي دا ډرامه په ۷۵/۱۲/۹ کښې نشر شوې وه دا ډرامه د ”پت غېږ“ سیریز کښې د افضل رضا په لیک کښې هم پیش شوي وه چې پیشکونکے ئې فرمان الله جان وو، او د خوشبختي خبره دا ده چې ماته هم دغه دواړه سکرپټه په لاس راغلي دي، دلته ددې سکرپټونو نه یو حصه پیش کوم ـ

”تحریر: سعد الله جان برق

کردارونه

(۱)یوسف خان (۲)شیربانو (۳)بندئي (۴)د شیربانو پلار (۵)اسلم خان او شیرخان۲۰ـ“

”تحریر: افضل رضا

(۱)یوسف (۲)شیربانو (۳)اسلم (۴)اکرم (۵)بندئي (۶)درخو (۷)مائي (۸)سیفور (۹)اکبر باچا (۱۰)دربان خاص (۱۱)شامتے (۱۲)کل دین ۲۱ ـ"

ددې دواړو ډرامو په سکرپټ کښې بس هم دومره فرق دے چې سعد الله جان برق د ډرامې ابتداء د یو خان په حجره کښې د یو څو کسانو تر مېنځه شروع کړه یعني د حجري خان ته نور کسان وائي چې د شیربانو او یوسف خان قېصه راته وکړه او هغه ورته قیصه شروع کوي ـ

بل طرفته د افضل رضا په سکرپټ کښې ډرامه براه راست د مرکزي کردارونو او ورسره د معاون کردارونو نه خپله ډرامه شروع کوي لکه د یوسف خان کردار او شیربانو کردارونه براه راست ښائي ـ

دلته د سعد الله جان برق د ډرامې نه یوه حصه وړاندې کوم ځکه چې د هغوې مکالمې ډېرې برحسته ، رواني ، آساني او په زړهٔ پورې دي ـ

"څلورمه ننداره:

بندي:	دا څوک ئې چې ما پسې راځې

یوسف:	بندي ، دا زه یم

بندي:	لالا؟ وئې دا ته چرته وې دومره موده

یوسف:	بندي

بندي:	لالا چې ته لاړې نو تربورانو په مونږ اور راکوز کړے دے، ادې هم میچڼې اوړوي ، زهٔ خو څهٔ په خدمت نه سترې کېږم ـ سحر ماښام وهل خورو او اوس خو شیربانو هم په زوره ودوي ـ

یوسف:	په زور-----------؟

بندي: هو د هغې پلار ته ئې وئیلي دي چې یوسف ځمونږ تربور وو، او د هغهٔ میراث ځمونږه دے!

یوسف: خو یوسف به د هغوي خوني میراتي کړي ـ

بندي: لالا ، صبالا د شیربانو واده دے، ډېر په درز غوبل میښې غواګاني ئې حلالې کړي دي او

یوسف: غم مه کوه چې شپه ئې ترمېنځه وي نو د هغې بلا نه مه یرېږه خداے دي یو ځل صبا کړي نو ته به اوګوري ـ

بندي: هغوي ډېر دي او ته یوازي ، لالا هسي نه چې-------------

یوسف: زه یوائې نه یم ، خو دا حال چاته وایه مه ، پټ غوندي مور ته اووایه ، بس ورځه ، نور به صبا ګورو ، ځه

یوسف: زما خوري یا به صبا یوسف خان نه وي یا به ئې تربوران ۲ـ

**ادم خان درخاني**

دا ډرامه ولي محمد خلیل لیکلې ده، او ارباب خان ئې پېشکونکے وو ولي محمد خلیل چې "قیصه د ګل په رنګ" سیریز کښې ئې موسي خان ګل مکي ډرامه هم لیکلې وه او هم د هغې پروګرام لاندي ئې دا ډرامه آدم خان درخاني هم پېش کړه ، د هغوي د دې اولسي قیصې یو منظر دلته پېش کوم چې د اصل سکرپټ نه مې را نقل کړے دے ـ

"حسن خان: آدم خانه چې اوبه د ورخ نه تیري شي نو

آدم خان: داجي اوبه زما ملګري دي ، ورخ جوړول ستاسو کار دے

حسن خان: مطلبي په ختېه اور لګوي ، آدم خانه ته که هر څۀ ئې خو یاد لره ته د یو پختون ځوے ئې او په پښتو کښې څۀ چې د دنیا هر قانون کښې واده شوي ښځې سره مینه کول ناروا ګڼړے کېږي

میرو: خان کاکا ، مئین د یو قانون هم پابند نه وي،

حسن خان: غلے شه میرو ، آدم خان که مئین دے نو د هر څۀ ورومبے هغه د حسن خان میټه خیل منډنړ څوے دے او، او حسن خان لا تر اوسه بې پښتو کار نه دے کړے درخاني اوس د پائیو خان عزت دے زه به هر هغۀ لاس غوس کړم چې په دې طرف پورته شي

بلو: خو خان جي!

حسن خان: بلو څنګه چې زما لاس کښې دا توره ټینګه ده هم داسې حسن خان په پښتو ټینګ پښتون دے ۲۳ـ"

**محبوبا جلات**

دا ډرامه هم سعد الله جان برق لیکلې ده او هم د قیصه د ګل په رنګ سیریز کښې نشر شوې ده چې پیشکونکے ئې ارباب خان وو۔ دا ډرامه په کال ۱۹۷۶/۱/۲ کښې د پاکستان ټیلیویژن کارپوریشن پېښور نه نشر شوې ده ـ د دې ډرامې کردارونه دا دي ـ

"کردارونه :

(۱)ملا میر(۲)جلات(۳)مهمندے(۴)محبوبا(۵)نامسلم (۶)خونکار

(۷)دوه سپاهیان (۸)اولس حجري زاړه ملګري

ددې ډرامې مکالمې هم ډېرې ښائسته دي او د ډرامې خوند نور هم زیاتوي د محبوبا او د جلات د ملاقات یوه ننداره برق صیب داسې را کاږي،

محبوبا: ته ـــــــــــته خوک ئې اوهوــــــــــــ
داــــــــــدا خو ته ئېـــــــــــــته

جلات: ولې ته ما پیژنې څۀ؟

محبوبا: هوـــــــــــته خوــــــــــــته خو
دا خوب دے که ویښه؟

جلات:　دا خوب نه دے ، ویښه ده

محبوبا:　که ویښه ده نو نو ته دلته څنګه راغلې؟

جلات:　د کوم ازمرې تماشه چې تا ګډه هغه کښې

محبوبا:　ازمرې کښې ته-----------------ته؟

جلات:　هو--------تا ماته او نه وئیل چۀ ته ما څنګه پیژنې

محبوبا:　ماته د ملنګانو په ټولې کښې لیدلے وې او د هغۀ وخت نه

جلات:　د هغۀ وخت نه څۀ؟

محبوبا:　او د هغۀ وخت نه------------ هیڅ هم نه هسې زړۀ مې وائې چې

جلات:　--------دروغ------- ستا زړۀ دے کوم ځائے که ستا زړۀ وے نو زما شپږ رونړه به ولې قتلیدل

محبوبا:　څۀ----------- شپږ رونړه؟ دا ته څۀ وائې

جلات:　ستا په لټون کښې زما شپږ رونړه قتل شوي دي ته د هغوي قاتله ئې،

محبوبا:　زۀ خو دلته په قید کښې اوسم ماته خو هیڅ پته نشته

جلات:　هو لکه ته خبر نه ئې

محبوبا:　بالکل نه

جلات:　ښه نو دا وره زما شپږ رونړه ستا د غوښتلو په جرم کښې ستا پلار وژلي دي

محبوبا:　زما پلار

جلات: او ستا هغه ظالم پلار ـــــــــــــــــــــــــــ ظالم دے کنه؟

محبوبا: زه زه څۀ ووایم

جلات: تاله پکار دي چې د دغه ظلم کفاره ادا کړي

محبوبا: څنګه

جلات: بهر راوځه

محبوبا: څنګه اوځم زۀ خو د مودو راسې بهر تلل غوارم،

جلات: زه درته بهر ولاړ یم ته راوځه ، زۀ به دې ځان پسي په اس سوره کړم بیا زه پوهه شه او زما کار

محبوبا: هو ــــــــــــــــ ستا نوم

جلات: جلات

محبوبا: جلات۲۴ــ ‘‘

دا وۀ ددې اولسي قیصو ډرامائي تفصیل کوم چې د پېښور ټي وي سټېشن نه نشر شوي وي او دا ډرامې په عوامو کښې ډېري زیاتي مقبولي شوي وي کله چې زۀ پي ټي وي ته د دې موضوع په تابیا لاړم نو چونکه د پي ټي وې اوسنے سنټر په۱۹۸۲ء کښې پرانستے شوے نو دلته د ۱۹۷۵ء سکرپټونه میلاویدل ډېر ګران کار وو، خو زما دا موضوع ډېره خوښه وه چې کار پرې وکړم نو د سکرپټ مشرانو په اجازت ما د هغوي تلف شوي سکرپټ کښې دا نُسخي ولټولي او د پښتو ادب دا درنه برخه مې راڅرګنده کړه امید دے چې د ډرامې او بیا په تیره تیره د اولسي قیصو خوښونکي به زما دا زیار ډېر خوښ کړئي باقي په تاسو پرېږدم چې د ښۀ بد فیصله زما د ښو په تله کښې واچوي ـ

## ماخذونه


۱: قلندر مومند ، فرید صحرائي ’’دریاب‘‘ این ډبلیو ایف پي ټیکسټ بک بورډ پېښور۱۹۹۴ء ص ۷۲۱

۲: میا بهادر شاه ظفر کاکا خیل ’’ظفر اللغات‘‘ پاکستان ایجوکیشنل پریس لاهور ، کال نه لري ص ۴-۸

۳: وارث سر هندي"علمي اردو لغت" علمي کتاب خانه سیکرسټریټ اردو بازار لاهور ۱۹۷۶ء ص ۷۸۰
۴: پروفېسر افضل رضا "ډرامه تاریخ تنقید او فن" ماسټر پرېس پېښور ۱۹۹۵ء مخ ۷
۵: هم دغه مخ ۷ تا ۹
۶: هم دغه مخ ۱۳
۷: هم دغه مخ ۱۳
۸: هم دغه مخ ۱۳
۹: فضل میر خټک "فضلیات" د چاپ ځاے نه لري ۱۹۹۹ء مخونه ۲۰۰-۲۰۱
۱۰: مشتاق مجروح یوسفزے"زرکاڼے"یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور۲۰۱۰ء مخ ۱۸۰
۱۱: پروفېسر ډاکټر عارف نسیم"ادبي تنقید" امین پرنټنګ پرېس پېښور جون۲۰۰۷ء مخ ۲۲۸
۱۲: هم دغه مخ ۲۳۰
۱۳: هم دغه مخ ۲۳۰
۱۴: پېښور ټي وي سنټر د ۱۹۷۴ء نه د۱۹۸۰ء رجسټر چې پکښې د پښتو ډرامو تفصیل راجمع دے
۱۵: اعجاز احمد پکړي (موسي خان ګل مکي) پاکستان ټیلویژن پېښور سنټر۱۹۷۵ء سکرپټ ص ۱
۱۶: عمر ناصر"شیر عالم ماموني" پي ټي وي سنټر پېښور۱۹۷۵ء مخ اولنے
۱۷: هم دغه مخ ۴-۵
۱۸: سعد الله جان برق "نور دل شهي" پاکستان ټیلویژن پېښور سنټر۱۹۷۵ء د سکرپټ ورومبے مخ
۱۹: هم دغه مخ ۸
۲۰: سعد الله جان برق "قیصه د ګل په رنګ" (یوسف خان شیربانو) پاکستان ټیلویژن سنټر پېښور۱۹۷۵ء د سکرپټ ورومبے مخ
۲۱: افضل رضا "دیت غېږ(یوسف خان شیربانو)" د سکرپټ ورومبے مخ
۲۲: سعد الله جان برق"یوسف خان شیربانو"د سکرپټ مخونه ۹-۱۰
۲۳: ولي محمد خلیل "آدم خان درخاني" پي ټي وي سنټر پېښور د سکرپټ مخونه ۱۶-۱۷
۲۴: سعد الله جان برق "محبوبا جلات" پاکستان ټیلي ویژن پېښور ۱۹۷۶ء د سکرپټ مخونه ۱۲ تا ۱۴،